آصف بهاند

۲۰۱۷/۰۵/۰۵

# ببنـه؟

تا زما په بن کې د ګلانو پر ځای

ازغي ځوزان وکرل

ډیر مُغیلان وکرل

بیا دې سیلاو د وینو راوسته پر دغه ګلشن

بیا لور په لاس شوې لو دې ګډ کړلو د هر یو بدن

نه دې لاس پرېښودل،

نه پښې او نه سر

ته شوې د غاړو لوګر

کرکه دې وکرله

ته شوې د کرکو بزګر

بیا دې د کرکو درمندونه جوړ کړل

حاصل دې واخیست د کرلي فصل

ته کرونګر د کرکې

ته یې لوګر د غاړو

چې تا وژلي،

آ دې شمیرلي؟

د تا هر پل لاندې سرونه فرش دي

دومره سرونه چې له شمیر وتلي

د تا د رېړې هر یو تار کې ارواګانې زانګي

دومره ارواوې چې له چغونه یې

د دغه کلي پورې کلي ټول عالم په عذاب

خو اوس آرامه فارغبال را روان

په هسکه غاړه، نرمه ژبه وایي:


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د نارنج بڼ ته مې چې اور ورته کړ

د نارنج بڼ کې چې ګلان لمبه شول

له سوځیدو او وریتیدو نه یې ببنه غواړم!! ؟

۲۰۱۷/۰۴/۳۰

هیدرسلیف

ډنمارک



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ